MACMILLAN CANCER SUPPORT

Help with costs when you have cancer: Pashto

# د سرطان درلودو پر مهال د لګښتونو مرسته.

دغه معلومات د سرطان درلود پرمهال د لګښتونو د مرستې په اړه دي. که د دغو معلوماتو په اړه هره پوښتنه لرئ، تاسې کولی شئ چې د Macmillan سرطان ملاتړ مرکز ته په **0808 808 00 00** شمېره په اونۍ کې اووه ورځې د سهار له اوو بجو بیا د ماښام تر اوو بجو زنګ ووهئ. موږ ژباړن لرو، نو تاسو کولی شئ چې زموږ سره په خپله ژبه خبرې وکړئ. کله چې موږ ته زنګ وهئ، مهرباني وکړئ په انګلیسي کې ووایئ چې کومې ژبې ته اړتیا لرئ.

دلته **macmillan.org.uk/translations** د سرطان په اړه په نورو ژبو کې ډېره معلومات موجود دي.

## دا معلومات ددې په اړه دي:

- د ترانسپورټي لګښتونو مرسته
- د نسخو او نورو روغتیایي لګښتونو مرسته
- د والدینو لپاره ملاتړ
- مرستې او پورونه
- Macmillan له تاسې سره څرنګه مرسته کولی شي
- ستاسې په ژبه کې نور معلومات
- مأخذونه او منني

## د ترانسپورټي لګښتونو مرسته

که مو عاید ټیټ وي، ښایي وکولی شئ چې د خپلې درملنې لپاره روغتون ته د سفر د لګښت مرسته ترلاسه کړئ. کولی شئ د خپل بس، اورګاډي یا ټکسي کرایه بېرته ترلاسه کړئ. یا کولای شئ د پیټرولو لګښت د مرستې لپاره پیسې ترلاسه کړئ. پر سرطان اخته کسانو ته د انګلیستان په ډېریو روغتونو کې وړیا او یا هم په تخفیف سره پارکېنګ ورکول کېږي. د ډېرو معلوماتو لپاره د روغتون له کارمندانو سره خبرې وکړئ.

د ځینو زړو او معلولو خلکو لپاره د بس، روزونکي اواورګاډي د ټکټونو لپاره ځانګړي نرخونه شته. د لا ډېرو معلوماتو لپاره **gov.uk** یا **nidirect.gov.uk** ته مراجعه وکړئ

که تاسې شاوخوا د ګرځېدو په برخه کې ستونزې لرئ، ښایي ابي کارت به ترلاسه کړی شئ. دا به له تاسې سره مرسته وکړي چې خپل موټرپه داسې پارکېنګ کې ودروئ، چې ستاسې د ورتګ ځای ته نږدې وي، لکه روغتون یا سپورمارکېټ. د لا ډېرو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره **gov.uk** یا **nidirect.gov.uk** ته مراجعه وکړئ

## د نسخو او نورو روغتیایي لګښتونو مرسته

- نسخې- په سکاټلنډ، ویلز او شمالي ایرلنډ کې نسخې د هر چا لپاره وړیا دي. په انګلستان کې د سرطان او یا یې د اغېزو اړوند هرڅه لپاره نسخې وړیا دي. تاسي باید هغه فورم ډک کړئ چې ستاسي د عمومي جراحی له ډاکترانو، درملتون یا نورو روغتونونو څخه یې ترلاسه کولی شئ.
- **وېګز او فبرېک ملاتړ** په سکاټلنډ، ویلز او شمالي ایرلنډ کې په NHS کې وېګز او فبرېک ملاتړ وړیا دي په انګلستان کې دا د ځینو خلکو لپاره وړیا دي، چې په دې ډله کې تر ۱۶ کلونو کم عمره ماشومان او هغه کسان شامل دي، چې عاید یې ټیټ وي. د ډېرو معلوماتو لپاره خپل د سرطان له ډاکټر یا نرس سره خبري وکړئ.

د **NHS د ټیټ عاید طرحه** له هغو کسانو سره مرسته کوي چې ټیټ عاید لري ترڅو خپل روغتیایي لګښتونه ورکړي. په دې کې د غاښونو د درملنې مرسته، د سترګو ازموینې او د درملنې د ترلاسه کولو لپاره د سفر مرسته شامله ده. دا د NHS له خوا یا په شمالي ایرلنډ کې د روغتیایي خدماتو له خوا مخ ته وړل کېږي.

## د والدینو لپاره ملاتړ

ښایي د ماشومانو د مراقبت ځینې لګښتونه به له حکومت څخه ترلاسه کړی شئ. په دې کې ښایي د ماشومانو وړیا مراقبت، یا د ماشومانو د مراقبت لپاره ځینې پیسې شاملې وي. تاسي د ملاتړ د ډېرو نورو ډولونو په اړه چې دلته [childcarechoices.gov.uk](childcarechoices.gov.uk) د لاسرسي وړ دي، ومومئ.

ښایي تاسي به وکولی شئ چې د ماشومانو د مراقبت د لګښتونو مرسته له خیریه ټولنې یا محلي شورا څخه ترلاسه کړئ.

که تاسو په ښوونځي کې کوم ماشوم لرئ، هغوی ښایي وکولای شي د ښوونځي وړیا خواړه ترلاسه کړي. که ستاسو عاید ټیټ وي، تاسي به ښایي وکولی شئ چې د ښوونځي د جامو او ښوونځي ته د تګ راتګ د سفر له لګښتونو مرسته ترلاسه کړئ. د ډېرو معلوماتو لپاره خپله محلي شورا وپوښتئ.

## مرستې او پورونه

د **Macmillan مرستې** کوچنی دي، د هغو خلکو لپاره یو ځلي تادیه کېږي، چې د سرطان له امله د اضافي لګښتونو په برخه کې مرستې ته اړتیا لري. په دې کې ښایي اضافي جامې یا د کور د ګرمولو د بېلونو تادیه شامله وي. د Macmillan مرستې د هغو خلکو لپاره دي، چې د عاید او سپما کچه یې ټیټه وي. لاندې ټول موارد باید پلي شي:

- تاسي د خپلې کورنۍ لپاره له £1,000 ډېره سپما نه لری.
- تاسي په اونیزه توګه د یوې کسیزې کورنۍ لپاره له £323 ډېر او یا د دوه کسیزې یا ډېرې کورنۍ لپاره په اونۍ کې له £442 ډېر عاید نه لری.
- تاسي په تېرو دوو کلونو کې لا له وړاندې د Macmillan کومه مرسته نه درلوده.

تاسو همدارنګه ښایي وکولای شئ له نورو سازمانونو څخه مرستې او پورونه ترلاسه کړئ. د بېلګې په توګه، خیریه بنسټونه یا ستاسي محلي شورا ښایي وکولای شي مرسته وکړي.

## ستاسي لپاره سم مراقبت او ملاتړ ترلاسه کول

که تاسي سرطان لرئ او په انګليسي ژبه خبرې نه کوئ، تاسو ښايي انديښنه ولرئ چې دا به ستاسو د سرطان په درملنه او مراقبت باندې اغېز وکړي. اما ستاسي د روغتياپالنې ټيم بايد تاسو ته داسې مراقبت، ملاتړ او معلومات وړاندې کړي چې ستاسو اړتياوې پوره کړي.

موږ پوهېږو چې ځينې وختونه خلک ښايي د سم ملاتړ په ترلاسه کولو کې له اضافي ننګونو سره مخ شي. د بېلګې په توګه، که تاسو کار کوئ يا کورنۍ لرئ نو دا به سخته وي چې د روغتون ملاقاتونو ته د تګ لپاره وخت ولرئ. تاسو همدارنګه ښايي د پيسو او د ترانسپورټي لګښتونو په اړه انديښنه ولرئ. دغه ټول شيان سټرېس رامنځ ته کوي او مبارزه ورسره سخته ده.

موږ همدارنګه په سرطان باندې د اخته کسانو لپاره د Macmillan مرستې وړاندې کوو. دغه يو ځلي تاديات دي چې د روغتون د پارکينګ، سفري لګښتونو، د ماشوم د مراقبت يا د ګرمولو د بېلونو په شان شيانو لپاره استفاده ورڅخه کېږي.

زموږ د وړيا ملاتړ کرښه **00 00 808 0808** تاسي ته په خپله ژبه او ستاسي له شرايطو سره سم مشوره وړاندې کولی شي. تاسو کولای شئ له نرسانو، مالي لارښوونکو، د هوسايني د حقونو له مشاورينو او د کار د ملاتړ له مشاورينو سره خبرې وکړئ. **Macmillan له تاسي سره څرنګه مرسته کولی شي**

په Macmillan کې، موږ پوهېږو چې د سرطان تشخيص څنګه کولای شي په هر څه باندې اغېز وکړي، او موږ دلته ستاسو د مرستې لپاره يو.

**Macmillan ملاتړ کرښه**
موږ ژباړن لرو، نو له همدې کبله تاسي په خپله ژبه خبرې کولی شئ. يوازې موږ ته په انګليسي ژبه د هغې ژبې په هکله وواياست چې تاسو پرې خبرې کول غواړئ. موږ کولای شو د طبي پوښتنو په برخه کې له تاسو سره مرسته وکړو، د مالي مرستې په هکله معلومات درکړو، او که غواړئ له چا سره خبرې وکړئ، موږ ستاسو غوښتنو ته غوږ ونيسو. د تليفون وړيا او محرمه کرښه په اونۍ کې 7 ورځې د سهار له 8 بجو څخه د شپې تر 8 بجو پورې پرانيستې ده.
له موږ سره په **00 00 808 0808** اړيکه ټينګه کړئ.

**د Macmillan ويب پاڼه**
**زموږ ويب پاڼه د سرطان په هکله په انګليسي ژبه ډېر معلومات لري. دلته [macmillan.org.uk/translations](macmillan.org.uk/translations) په نورو ژبو لا ډېر معلومات شته.**

موږ همدارنګه کولای شو يوازې ستاسو لپاره د ژباړې خدمات وړاندې کړو. د هغه څه په اړه چې اړتيا ورته لرئ، موږ ته په [cancerinformationteam@macmillan.org.uk](mailto:cancerinformationteam@macmillan.org.uk) باندې برېښناليک واستوئ.

**د معلوماتو مرکزونه**
زموږ د معلوماتو او ملاتړ مرکزونه په روغتونونو، کتابتونونو او د تلفون په مرکزونو کې موجود دي. د اړتيا وړ معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره زموږ يوه معلوماتي مرکز ته مراجعه وکړئ او مخامخ له يو چا سره خبرې وکړئ. تاسي ته تر ټولو نږدې مرکز دلته [macmillan.org.uk/informationcentres](macmillan.org.uk/informationcentres) ومومئ يا له موږ سره په **00 00 808 0808** شمېر اړيکې ونيسئ.

**د ملاتړ محلي ګروپونه**
د ملاتړ په ګروپ کې، تاسو کولا شئ له نورو هغو خلکو سره خبرې وکړئ چې له سرطان څخه اغېزمن شوي دي. ستاسي په سيمه کې د ملاترو ډلو په اړه دلته [macmillan.org.uk/supportgroups](macmillan.org.uk/supportgroups) ته ومومئ يا له موږ سره په **00 00 808 0808** شمېره اړيکه ونيسئ.

**د Macmillan آنلاين ټولنه**
تاسو همدارنګه کولای شئ په آنلاين ډول له نورو هغو خلکو سره چې د سرطان له امله اغېزمن شوي دي د [macmillan.org.uk/community](macmillan.org.uk/community) له لارې خبرې وکړئ. تاسو کولای شئ د شپې يا ورځې په هر وخت

کې لاسرسی ورته ولرئ. تاسو کولای شئ خپلې تجربې شریکې کړئ، پوښتنې وکړئ، یا فقط د خلکو د پوستونو له لارې معلومات ولولئ.

## ستاسې په ژبه کې نور معلومات

موږ د دغو موضوعاتو په هکله ستاسو په ژبه کې معلومات لرو:

- له سرطان سره مبارزه کول
- سرطان او کرونا وایروس
- په انګلستان کې د سرطان یا کېنسر پاملرنه:
- د ګټو غوښتنه کله چې سرطان لرئ
- د خوړلو ستونزې او سرطان
- د ژوند پای
- د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره روغتیاپالنه
- سالم خوراک کول
- د سرطان درلودو پر مهال د لګښتونو مرسته.
- که چیرې ستاسو د کېنسر ناروغی تشخیص کیږي
- LGBTQ+ خلک او سرطان
- سپیسپس او سرطان
- د سرطان د درملنې جانبي عوارض
- ستړیا (ستوماني) او سرطان

- **د سرطان ډولونه**
- د سینې سرطان
- د رحم د خولې سرطان
- د لویو کولمو سرطان
- د سږي سرطان
- د پروستات سرطان

- **درملنې**
- کیموتراپي
- رادیوتراپي
- جراحي عملیات

د دغو معلوماتو د کتلو لپاره، **macmillan.org.uk/translations** ته مراجعه وکړئ

## مأخذونه او مننې

دغه معلومات د Macmillan د سرطان د ملاتړ د سرطان د معلوماتي پراختیا د ټیم په واسطه لیکل او تحریر شوي دي. د Macmillan د سرطان د ملاتړمرکز ستاسې ژبې ته د دغه معلوماتو د ژباړلو لپاره پیسې ورکړې دي.

وړاندې شوي معلومات د Macmillan د سرطان له لګښت سره د مرستې د لارښود کتابچې پر بنسټ دي.

دغه معلومات د اړوند متخصصینو له خوا بیا ځلې کتل شوي او د Macmillan's رفاهي حقوقو د ټیم له خوا تایید شوي دي.

له هغو خلکو څخه ډېره مننه چې د سرطان له امله اغېزمن شوي دي او د دغو معلوماتو بیاکتنه یې کړې ده.

زموږ ټول معلومات د غوره شته شواهدو پر اساس دي. د سرچینو په اړه د لا ډېرو معلوماتو لپاره له موږ سره په **cancerinformationteam@macmillan.org.uk** ادرس اړیکه ټینګه کړئ.

**د محتوا بیا کتنه: ۲۰۲۲ راتلونکې پلان شوې بیا کتنه: ۲۰۲۵**

MAC17423_Pashto

مونږ هره هڅه کوو ترڅو ډاډ ترلاسه کړو چې هغه معلومات چې مونږ یې چمتو کوو دقیق او وروستي معلومات وي اما دا باید ستاسو د وضعیت سره سم د مسلکي مشورې د بدیل په توګه ونه کارول شي. تر هغه ځایه چې د قانون لخوا اجازه ورکړل شوې، Macmillan په دې خپرونه کې د هر هغه معلوماتو د کارولو یا د دریمې ډلې د معلوماتو یا د ویب پاڼې د شاملو معلومات یا راجع شویو معلوماتو مسؤلیت نه مني.

د Macmillan سرطان ملاتړ2022، په انګلستان او ویلز (261017)، سکاټلینډ (SC039907) او آئل آف مین (604) کې ثبت شوې خیریه موسسه. په شمالی ایرلنډ کې هم فعالیت کوي. د ضمانت په واسطه محدوده شوې کمپني، چې په انګلستان او ویلز کې په 2400969 شمېره ثبت شوې ده. آئیلز آف من کمپني نمبر 4694F. ثبت شوی دفتر: 89 Albert Embankment, London SE1 7UQ. VAT شمېره: 668265007

Trusted Information Creator

Patient Information Forum

Help with costs when you have cancer: English

# Help with costs when you have cancer

This information is about help with costs if you have cancer. If you have any questions about this information, you can call Macmillan Cancer Support on **0808 808 00 00**, 7 days a week, 8am to 8pm. We have interpreters, so you can speak to us in your own language. When you call us, please tell us in English which language you need.
There is more cancer information in other languages at **macmillan.org.uk/translations**

## This information is about:

- Help with transport costs
- Help with prescriptions and other health costs
- Support for parents
- Grants and loans
- How Macmillan can help you
- More information in your language
- References and thanks

## Help with transport costs

If you are on a low income, you may be able to get help with the cost of travelling to hospital for your treatment. You could get a refund on your bus, train or taxi fares. Or you could get money to help with some of your petrol costs. People with cancer get free or discounted parking at many UK hospitals. Speak to the staff at the hospital for more information.

There are special rates for bus, coach and train tickets for some older people and people with disabilities. For more information visit **gov.uk** or **nidirect.gov.uk**

If you have problems moving around, you may be able to get a Blue Badge. This allows you to park in parking spaces that are closer to where you need to go, such as hospitals or supermarkets. To find out more, visit **gov.uk** or **nidirect.gov.uk**

## Help with prescriptions and other health costs

- **Prescriptions -** In Scotland, Wales and Northern Ireland, prescriptions are free for everyone. In England, prescriptions are free for anything related to cancer or its effects. You will need to fill in a form, which you can get from your GP surgery, pharmacy or some hospitals.
- **Wigs and fabric supports -** In Scotland, Wales and Northern Ireland, wigs and fabric supports are free on the NHS. In England, they are free for some people, including children under the age of 16 and people on a low income. Speak to your cancer nurse or doctor for more information.

The **NHS Low Income Scheme** helps people on a low income to pay for health costs. This includes help with dental treatment, sight tests and travel to receive treatment. It is run by the NHS, or the Health Service in Northern Ireland.

## Support for parents

You might be able to get some help from the government towards childcare costs. This might include some free childcare, or some money to help pay for childcare. You can find out about the different types of support available at **childcarechoices.gov.uk**

You might also be able to get help with childcare costs from a charity or your local council.

If you have a child at school, they might be able to get free school meals. If you have a low income, you might also be able to get help with paying for school clothing, and travel to and from school. Ask your local council for more information.

## Grants and loans

**Macmillan Grants** are small, one-off payments for people who need help with the extra costs that cancer can cause. This might be extra clothing or help to pay heating bills. Macmillan Grants are for people who have a low level of income and savings. All of the following must apply:

- You have no more than £1,000 in savings for your household.
- You have a weekly income of no more than £323 per week for a household of 1 person or no more than £442 per week for a household of 2 or more people.
- You have not already had a Macmillan Grant in the last 2 years.

You may also be able to get grants or loans from other organisations. For example, charities or your local council might be able to help.

## Getting the right care and support for you

If you have cancer and do not speak English, you may be worried that this will affect your cancer treatment and care. But your healthcare team should offer you care, support and information that meets your needs.

We know that sometimes people may face extra challenges in getting the right support. For example, if you work or have a family it can be hard to find time to go to hospital appointments. You might also have worries about money and transport costs. All of this can be stressful and hard to cope with.

We also offer Macmillan Grants to people with cancer. These are one-off payments that can be used for things like hospital parking, travel costs, childcare or heating bills.

Our free support line **0808 808 00 00** can offer advice, in your language, about your situation. You can speak to nurses, financial guides, welfare rights advisers and work support advisers.

## How Macmillan can help you

At Macmillan, we know how a cancer diagnosis can affect everything, and we are here to support you.

**Macmillan Support Line**
We have interpreters, so you can speak to us in your language. Just tell us, in English, the language you want to use. We can help with medical questions, give you information about financial support, or be there to listen if you need someone to talk to. The free, confidential phone line is open 7 days a week, 8am to 8pm.
Call us on **0808 808 00 00**.

**Macmillan website**
Our website has lots of information in English about cancer. There is also more information in other languages at **macmillan.org.uk/translations**

We can also arrange translations just for you. Email us at **cancerinformationteam@macmillan.org.uk** to tell us what you need.

**Information centres**
Our information and support centres are based in hospitals, libraries and community centres. Visit one to get the information you need and speak with someone face to face. Find your nearest centre at **macmillan.org.uk/informationcentres** or call us on **0808 808 00 00**.

**Local support groups**
At a support group, you can talk to other people affected by cancer. Find out about support groups in your area at **macmillan.org.uk/supportgroups** or call us on **0808 808 00 00**.

**Macmillan Online Community**
You can also talk to other people affected by cancer online at **macmillan.org.uk/community** You can access it at any time of day or night. You can share your experiences, ask questions, or just read through people's posts.

## More information in your language

We have information in your language about these topics:

- Coping with cancer
- Cancer and coronavirus
- Cancer care in the UK
- Claiming benefits when you have cancer
- Eating problems and cancer
- End of life
- Healthcare for refugees and people seeking asylum
- Healthy eating
- Help with costs when you have cancer
- If you are diagnosed with cancer
- LGBTQ+ people and cancer
- Sepsis and cancer
- Side effects of cancer treatment
- Tiredness (fatigue) and cancer

- **Types of cancer**
- Breast cancer
- Cervical cancer
- Large bowel cancer
- Lung cancer
- Prostate cancer

- **Treatments**
- Chemotherapy
- Radiotherapy
- Surgery

To see this information, go to **macmillan.org.uk/translations**

## References and thanks

This information has been written and edited by Macmillan Cancer Support's Cancer Information Development team. Macmillan Cancer Support has paid for this information to be translated into your language by a translation company.

The information included is based on the Macmillan booklet Help with the cost of cancer.

This information has been reviewed by relevant experts and approved by Macmillan's Welfare Rights team.

Thanks also to the people affected by cancer who reviewed this information.

All our information is based on the best evidence available. For more information about the sources we use, please contact us at **cancerinformationteam@macmillan.org.uk**

**Content reviewed: 2022 Next planned review: 2025**

MAC17423_English

We make every effort to ensure that the information we provide is accurate and up-to-date but it should not be relied upon as a substitute for specialist professional advice tailored to your situation. So far as is permitted by law, Macmillan does not accept liability in relation to the use of any information contained in this publication or third party information or websites included or referred to in it.

© Macmillan Cancer Support 2022, registered charity in England and Wales (261017), Scotland (SC039907) and the Isle of Man (604). Also operating in Northern Ireland. A company limited by guarantee, registered in England and Wales company number 2400969. Isle of Man company number 4694F. Registered office: 89 Albert Embankment, London SE1 7UQ. VAT no: 668265007

Trusted Information Creator

Patient Information Forum